مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۷/۰۳

# غزل
# ته، نه یی خبر

د سلګو شور او فریادونه وو ته، نه يې خبر
درد او فغان، سوي آهونه وو ته، نه يې خبر
مړ مي په خوب لېدی نه زه خو په ځان نه وم خبر
له خولې مي وتي اوازونه وو ته، نه يې خبر؟



انفجار دیروز کابل

مالګينې اوښکې مي د زړه په پرهرو بهېدې
غلـيم اتـڼ کاوه ډولـونه وو ته، نه يې خبر؟

تــا بــه ځـپـلـم، بـل ځـپـلـم، ځـان بــه هم ځپلم
پــه ما د هــر چــا ګذارونه وو ته، نه يې خبر
يــه "پسرلـيه"! مکـمـل لـيـونــی تــه وختــي
چي ستا په غاړه ځنځيرونه وو ته، نه يې خبر

** * ** * ** * **

** * * * **

***

**يادونه:**

**که چيری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری ليکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی د «آرشيف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!**

**يادونه:**

**که چيری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری ليکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی د «آرشيف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!**